نجیب منلی ۲۰۱۰/۰۳/۰۷م

# راکړه! دا کمره مېرمن غـ...!

Give me that f… camera!

له مزاره د کابل په لور راروان وو. زامن مي د لومړي ځل له پاره خپل پلرني هېواد ته راغلي وو. د خلکو دوستانه برخورد، د طبیعت ښکلا، د کلیو او بازارونو رنګارنګي هر څه د هغوی له پاره په زړه پوري وو. د افغانستان په اړه چي په غرب کي کومي خبري په مطبوعاتو کي خپرېږي د افغانستان واقعیتونه ببخي په مسخ شوي شکل وړاندي کوي. زوی مي د موټر په مخکیني سیټ ناست و او هر څه یې چي لیدل هغه فلم کول یې.
د ماښام په خړه کي پلخمري ته راورسېدو. نا څاپه خړي زغروري واسطې زموږ له موټره وړاندي شوې او د ماشینداري د میل شاته په تورو دستکشو یو پوښلي لاس را ته د ځنګ ته کېدو قوماندہ راکړه. موږ هم موټر د سړک غاړي ته کړ. زموږ موټر لا ببخي نه و دربدلی چي شپږ اوه تنه وسله وال زموږ له موټره تاو شول، یو امریکایي سرباز د موټر مخکینی دروازه په شدت خلاصه کړه او لکه یو بدورګه ځناور چي غرمبېږي چغه یې کړه :
Give me that fucking camera! Who sent you?
یو دري ژبي ترجمان په هماغه بده لهجه د امریکایي عسکر د جملي یوازي وروستی برخه وژباړله :
- تو ره کی روان کد؟
زما زوی په دري نه پوهېږي. صحنه هم ډېره غیر مترقبه وه، بي جوابه شو. د هغه سکوت د امریکایي سرتېري عضب نور هم ډېر کړ. زه له موټره کښېوتم، په پوره ډار امریکایي عسکر ته ورنږدې شوم ځان مي معرفي کړ او ورته مي وویل چي غوښتنه یي بي ځایه وه ځکه د هغوی کاروان زموږ له موټره مخکي شوی و او زموږ کامره لا تر مخه فعاله وه، موږ په خپل هېواد کي ګرزو نو ولي له موږ دا پوښتنه کېږي چي چا را لېږلي یو؟
زما د دولتي پوزیشن پېژندلو او په انګلیسي ژبه ارام بحث امریکایي عسکر لږ سوړ کړ خو سره له دې یي زموږ کامره راخخه واخیسته او را ته یي وویل چي د کېله ګي په کمپ کي به یي ببرته را کړي. د کېله ګي د کمپ په دروازه کي امریکایي سرتېري زموږ تول یو ساعته کسټ له نظره تېر کړ. د هغوی د وسایطو عکسونه په کي نه وو، نو له تقریباً نیم ساعت ځنډ وروسته یي خپله کامره ببرته راکړه او د خپلو کړنو د توجیه له پاره یي را ته په خورا نرمی وویل :
- و بخښئ، خو تاسي پوهېږئ چي شرایط څومره سخت دي او زموږ د زلمیو ژوند هره شېبه په خطر کي دی.
*
په کابل کي ځان مرګي د برید په حال کي دي، زموږ تلویزیونونه صحنه نېغ په نېغه خپروي. شاید د ملي پولیسو د یو سرتېري پرمختګ دومره دقیق وي چي د برید کوونکیو توجه جلب نه شي کړای. خو که د برید کوونکیو د عملیاتو مشر چېرته د کابل په کوم کور کي تلویزیون ته ناست وي، دغه سرتېری ویني او کولای شي ډېر په اسانه د تلیفون له لاري د هغه موضع په دقیقه توګه خپلو افرادو ته وښیي. یوه ګولی کافي ده چي دغه زړه ور سرتېری له دنیا تېر شي.
د افغانستان امنیتي قواوې له رسنیو غواړي چي په دې برخه کي له احتیاطه کار واخلي. هالبروک او کلینټن په واشنګټن کي د افغاني چارواکیو دغه غوښتنه د مطبوعاتو ازادی ته یو ګواښ بولي او اعلان کوي چي دا موضوع به د افغانستان له ولسمشر سره مطرح کوي.
*
ظاهراً د یو افغان سرتېري او د یو امریکایي سرتېري ژوند د مطبوعاتو د ازادی په اړه یو شان نه ارزول کېږي. امریکایي عسکر چي په عراق، سومالیا یا افغانستان کي عملیات کوي د عملیاتو تولہ سیمه د ژورنالیستانو پر مخ تړي او یوازې هغه ژورنالیستان هلته د کار حق لري چي د امریکایي استخباراتو تر چتر لاندي په زغرورو واسطو کي ناست، د عملیاتو ګزارش جوړوي او هغه د عملیاتو له پایه څو ورځي وروسته خپروي دا کار د مطبوعاتو له ازادی سره ټکر نه بلل کېږي خو د افغان چارواکیو تشه غوښتنه بیا داسي عکس العمل راپاروي.
افغان چارواکي د عادت له مخي د مطبوعاتو په وړاندي غیر مسوولانه برخورد کوي. همدغه د امنیتي عملیاتو پر مهال د ژوندیو خپرونو موضوع کېدای شول چي د یو ازاد سمپوزیم په ترڅ کي د امنیتي مسوولینو او د رسنیو د فعالینو د ازاد، منطقي، پر ملي مصالحو ولاړ بحث په ترڅ کي څېړل شوې وای او په ګډه یوه معقوله تګلاره پلټل شوې وای. یا به د امنیتي څواکونو مسوولینو په خپل استدلال خبریالان قانع کړي وو یا به خبریالانو په خپل استدلال د امنیتیانو اندېښني رفع کړي وای. له هماغه پیله د افغانستان حکومت له رسنیو سره د متقابل درناوي د فضا په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

ایجادولو کې پاتې راغلي دي. زموږ د رسنيو په دايره کې هم داسې غير مسوول عناصر شته چې يا د بل په نغوته، يا د سياسي شعور د ضعف له امله په هره موقع کې اور ته لمن وهي.
دا ستونزه بايد افغانان حل کړي خو هغه «افغاني غرور» چې موږ پرې دومره نازېږو بايد موږ ټول دې ته و هڅوي چې د يو بل هېواد مشران، که څه هم هغه هېواد زموږ ډېر نېږدې دوست او ځواکمن مرستندوی وي، دې ته پرې نه ږدو چې زموږ پر ځای زموږ د سرتېرو د ژوند نرخنامه راجوړه کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ